# الدخان

**مکی سورة دی ۵۹ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

حمٓ ﴿١﴾

**حا- میم( په اصل معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**

وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾

**قسم دی( د دینی احکامو) په دې روښانه کوونکی کتاب.**

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ﴿٣﴾

**چې مونږ هغه نازل کړی د ( قدر) په برکتناکه شپه( له لوح محفوظ نه د دنیا آسمان ته، او په همدغه شپه د پاک قرآن لومړنی وحې مبارک رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پیل شوې ده). بیشکه چې مونږ( د دې قرآن په وسیله د خلکو) تنبیه کوونکی یو.**

فِيهَا يُفۡرَقُ كُلُّ أَمۡرٍ حَكِيمٍ ﴿٤﴾

**په دغه( عظیم الشأنه) شپه له حکمت او مصلحت نه ډکې ټولې چارې سره تفکیک او جلا کیږی.**

أَمۡرٗا مِّنۡ عِندِنَآۚ إِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ﴿٥﴾

**هغه کار چې زمونږ له خوا (په قضا او قدر کې) فیصله شوی او نه بدلیدونکی دی( له لوح محفوظ نه انتقال او د انفاذ او تطبیق لپاره د تکوینی چارو مؤظفو پرښتو ته سپارل کیږی). ( د قرآن نزول هغه ستر کار دی چې زمونږ له حضوره سرته رسیدلی ځکه) مونږ د (وحې او رسولانو) استونکی یو.**

رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦﴾

**( د مبارک قرآن نزول او د محمد صلی الله علیه وسلم بعثت، په خلکو باندې) ستا د رب د رحمت ځرګندونه کوی، بیشکه چې الله تعالی (د هر چا د خبرو او دعاګانو) اوریدونکی) او په ټولو چارو پوه ذات دی.**

رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٧﴾

**د آسمانونو او ځمکې او په هغو کې د شته موجوداتو او مخلوقاتو رب دی، که تاسو وربادنې باورمن یاست (نو باید د قرآن او پیغمبر په حقانیت هم پوره یقین ولرئ).**

لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٨

له هغه نه غیر، بل خدای( او د عبادت مرجع) نشته، ژوند او مرگ د هغه په واک کې دی، هم ستاسو رب دی او هم ستاسو د پخوانیو پلرونو نیکونو رب.

بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ يَلۡعَبُونَ ٩

( کافران او مشرکان په توحید او قیامت باور نه لری) بلکه په شک کې دی( او پخپلو خبرو او کړنو له حقایقو سره) لوبې کوی.

فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ١٠

نو( ای پیغمبره!) هغې ورځې ته سترگې په لار اوسه چې( د قیامت د یوې سترې نښې په حیث به) د آسمان له لوری یو لوگی راڅرگند شی.

يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ١١

( توله فضا به تیاره) او خلک به پکې پټ شی، او دا به یو دردوونکی عذاب وی.

رَّبَّنَا ٱكۡشِفۡ عَنَّا ٱلۡعَذَابَ إِنَّا مُؤۡمِنُونَ ١٢

( هر سرکش او مغرور کافر به چیغې وهی چې) ای زمونږ ربه له دغه عذابه مو خلاص کړه چې مونږ ایمان راوړو.

أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكۡرَىٰ وَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مُّبِينٞ ١٣

( په دغه سخت وخت کې) پند اخستل( او فکر یې سر ته راتلل) څه گټه لری؟ په داسې حال کې چې( له عذاب نه وړاندې ورته په صورت او سیرت) پیژندل شوی پیغمبر راغلی و( خو دوی یې نصیحت ته پاملرنه و نه کړه).

ثُمَّ تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَقَالُواْ مُعَلَّمٞ مَّجۡنُونٌ ١٤

له هغه نه یې مخ واړاوه او ویل یې چې ده ته خو( قرآن ) ورزده کړی شوی، او لیونی دی.

إِنَّا كَاشِفُواْ ٱلۡعَذَابِ قَلِيلًاۚ إِنَّكُمۡ عَآئِدُونَ ١٥

( ای کافرانو او مشرکانو که)لږه موده درنه عذاب پورته کړو تاسو به بیاهم بیرته (خپلو بې اساسه عقایدو او ناوړو کړو ته) مخه کړئ.

يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ١٦

( مونږ به له کافرانو او سرکشو باغیانو نه د دوی د بغاوت انتقام واخلو) په هغه ورځ چې په سختۍ او شدت سره یې ونیسو،بې له شکه چې مونږ انتقام اخستونکی یو.

۞ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَاءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ١٧

او له دوی نه وړاندې مو د فرعون قوم له ازمیښت سره مخامخ کړ چې یو عزتمند پیغمبر ورته ورغی( او هغوی یې د خپل رب حکم او فرمان منلو ته راوبلل).

أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ عِبَادَ اللَّهِ ۖ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ١٨

( او ورته یې وویل:) دغه د الله تعالی بندګان( چې ستاسو د ظلم زور لاندې د مریيتوب ژوند کوی) ماته وسپارۍ، ځکه زه ستاسو لپاره یو امین پیغمبر یم.

وَأَن لَّا تَعْلُوا عَلَى اللَّهِ ۖ إِنِّي آتِيكُم بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ١٩

او د الله تعالی( د احکامو په مقابل کې) تکبر مه کوۍ، ځکه ما ستاسو لپاره روښانه دلیل( انکار نه منونکی معجزات) راوړی دی.

وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ أَن تَرْجُمُونِ ٢٠

او زه له دې چې تاسې مې سنګسار کړۍ( او یا مې وشړۍ) هغه ذات ته پناه وړم چې هم زما رب دی او هم ستاسو رب.( او د هغه په حفاظت پوره باور او اعتماد لرم).

وَإِن لَّمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ ٢١

او( ای فرعونیانو!) که په ما ایمان نه راوړۍ( نو اقلاً قوم ته مې د تللو اجازه ورکړۍ او له آزار او اذیت نه یې) لاس واخلۍ.

فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ٢٢

( خو کله چې فرعونیانو د هغوی له زورولو لاس وانخست او پرله پسې یې خلک د الله تعالی له لارې راګرځول نو موسی علیه السلام) خپل رب ته دعا وکړه چې دا خلک د جرم او سرکشۍ نه لاس اخستونکی نه دی( اوس ته زمونږ او دوی تر منځ فیصله وکړه).

فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ٢٣

( الله تعالی ورته امر وکړ چې) زما بندګان د شپې وباسه ځکه تاسو( د کفارو له خوا) تر تعقیب لاندې یاست.

وَٱتْرُكِ ٱلْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾

او سیند (له هماغو لارو سره چې ستاسو د تیریدو لپاره مو خلاصې کړی) همداسې پخپل حال پریږدی( تر څو فرعونیان هم ورته ورداخل شی) ځکه هغوی په غرقیدو محکوم دی.

كَمْ تَرَكُوا۟ مِن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾

څومره ډیر باغونه او رڼې چینې ترې تر شا پاتې شوې.

وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾

او څومره کښتونه او فصلونه او د عزت او دبدبې محلونه او ماڼۍ.

وَنَعْمَةٍ كَانُوا۟ فِيهَا فَٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾

او هغه نعمتونه چې په هوسایۍ او خوشالۍ یې پکې مزې چرچې کولې.

كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَٰهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾

( په همدې توګه مو هغوی هلاک کړل) او دغه ټول نعمتونه مو بل قوم( بنی اسرائیلو) ته په میراث پریښودل.

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ وَمَا كَانُوا۟ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾

نو بیا د فرعونیانو په حال، نه آسمان د غم کومه اوښکه توی کړه او نه ځمکې، بلکه (د عذاب د نزول په وخت شیبه) مهلت هم ورنه کړی شو.

وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴿٣٠﴾

او بیشکه چې بنی اسرائیل مو له یوه سپکوونکی عذاب نه وژغورل.

مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾

د فرعون له عذابه، د یوه سرکش او افراطی حدود ماتوونکی متکبر( له عذابه).

وَلَقَدِ ٱخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾

او د پوره علم (او بصیرت) په اساس مو، بنی اسرائیلو ته( د هغه عصر) په خلکو باندې ترجیح او برتری ورکړه.

وَءَاتَيۡنَٰهُم مِّنَ ٱلۡأٓيَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٞاْ مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾

**او هغه لوی دلایل او معجزات مو ورته ورکړل چې په څرګند ډول له آزمایښتونو ډک وو.**

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾

**اوسنی کافران( په ډیر ټینګار سره مؤمنانو ته) وایی:**

إِنۡ هِيَ إِلَّا مَوۡتَتُنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُنشَرِينَ ﴿٣٥﴾

**همدا لومړنی مرګ زمونږ( د ژوند پای او عاقبت) دی او مونږ( بیا د حساب کتاب لپاره) بیرته نه راژوندی کیږو.**

فَأۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٣٦﴾

**( او ای مؤمنانو!)که تاسو( د مړو د راژوندی کیدو په ادعا کې) ریښتونی یاست،( نو ستاسو رب دې زمونږ د باور لپاره) زمونږ پلرونه راژوندی کړی.**

أَهُمۡ خَيۡرٌ أَمۡ قَوۡمُ تُبَّعٖ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ﴿٣٧﴾

**( الله تعالی فرمایی:) آیا اوسنی کافران( په شان شوکت او قدرت کې زیات پیاوړی دی که د تبع قوم او نور پخوانی قومونه؟ مونږ هغوی ټول (د کفر، تمرد او سرکشۍ) په جرم تباه کړل.**

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ﴿٣٨﴾

**او آسمانونه او ځمکه او د هغو ترمنځ موجودات او مخلوقات مو د لوبو او ساعت تیرۍ لپاره نه دی پیدا کړی.**

مَا خَلَقۡنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٩﴾

**بلکه په حقه( او د یوه خاص هدف لپاره) مو پیدا کړی خو زیاتره خلک بیاهم( د حقایقو په باب) پوره پوهه او معرفت نه لری.**

إِنَّ يَوۡمَ ٱلۡفَصۡلِ مِيقَٰتُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٠﴾

**بې له شکه( د حق او باطل او مؤمن او کافر) د جدایۍ ورځ( قیامت) د هغوی لپاره ټاکلی نیټه او میقات دی.**

يَوْمَ لَا يُغْنِي مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْـًٔا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾

**هغه ورځ چې نه به کوم دوست د خپل بل دوست او ملګری د درد دوا شی او نه به ورسره له کومې خوا مرسته وشی.**

إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾

**خو هغو کسانو( مؤمنانو) ته به چې الله تعالی وربانديې رحم وکړی، (نجات او خاص امتيازات ور په برخه وی). يقيناً چې الله تعالی (په خپل هر اقدام) برلاسی او مهربان ذات دی.**

إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾

**بيشکه چې د زقوم د ونې( ميوه).**

طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾

**د لويو ګناهکارانو( او کافرانو) خوراک دی.**

كَٱلْمُهْلِ يَغْلِي فِي ٱلْبُطُونِ ﴿٤٥﴾

**د جوشيدونکو مسو په شان به يې په نسونو کې جوشيږی.**

كَغَلْيِ ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾

**لکه د جوشيدونکو اوبو په شان.**

خُذُوهُ فَٱعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾

**( امر به کيږی) ويې نيسئ او د دوزخ منځ ته يې راکاږئ.**

ثُمَّ صُبُّوا۟ فَوْقَ رَأْسِهِۦ مِنْ عَذَابِ ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾

**بيا يې له عذابه ډکې جوشيدونکې اوبه په سر ورخلاصې کړئ.**

ذُقۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡكَرِيمُ ﴿٤٩﴾

( او ورته ووايئ) خوند ترې واخله( ته هماغه يې چې) ځان ته دې معزز او محترم وايه (او ايمان دې عار گاڼه).

إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِۦ تَمۡتَرُونَ ﴿٥٠﴾

دا هغه عذاب دی چې تاسو ورته د شک په سترگه کتل.

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٖ ﴿٥١﴾

بيشکه چې پرهيزگاران به د امن په فضا کې ژوند کوی( نه به وربانديې کوم غم او پريشانی وی نه ويره).

فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ﴿٥٢﴾

په جنتونو او چشمه زارونو کې.

يَلۡبَسُونَ مِن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٥٣﴾

د نازکو او پريرو وريښمو کالی به يې په تن وی( او نورو مؤمنانو ته به د صميمی دوستانو په شان) مخامخ ناست وی.

كَذَٰلِكَ وَزَوَّجۡنَٰهُم بِحُورٍ عِينٖ ﴿٥٤﴾

هو دا به وی د( متقيانو) شان او مونږ به ښکلې آهو چشمې حورې هم ورته واده کړو.

يَدۡعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَٰكِهَةٍ ءَامِنِينَ ﴿٥٥﴾

د دوی له خوښې او فرمايش سره سم به هر ډول خوراکونه ورته بې تکلفه مخ ته ايښې وی او کاملاً به هوسا او آرام وی.

لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلْمَوْتَ إِلَّا ٱلْمَوْتَةَ ٱلْأُولَىٰ ۖ وَوَقَىٰهُمْ
عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾

بیا به وربانديٍ هیڅکله مرګ نه راځی، بلکه هماغه یو مرګ و چي په دنیا کي یي تیر کړ، او د دوزخ له اوره به هم مصؤن او په امن کې وی.

فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾

دا فضل او احسان دی ستا د رب له لوری، او همدا ده لویه بریا او کامیابی.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾

نو (قرآن پوهنه) مو ستا په( فصیحه او روانه) ژبه آسانه کړه ترڅو تری( عربی ولسونه د لومړنیو مخاطبینو په حیث په خپله مورنی ژبه) پند او عبرت واخلی.

فَٱرْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾

( خو که يې عبرت وانخست او هوښیار نه شول) نو ورته انتظار وباسه او دوی دې هم سترګې په لار وی( چې انجام او عاقبت ووینی. بیشکه چې عاقبت ستا سره د الله تعالی نصرت او د کافرانو لپاره د دنیا او آخرت عذاب او بدمرغی ده).

« تمت سورة الدخان بفضل الله و رحمته».

====================